# سرپ یا د لیډ د مسمومیت مخنیوی

## سرپ یا لیډ چیري موندل کیږي؟

- رنګونه: سرپ یا لیډ کېدای شي په هغه رنګ کې وموندل شي چې د 1978 څخه وړاندې جوړ شوي وي. دا رنګ ستاسو کېدای شي ستاسي په کور کې پر هره رنګ شوې سطحه وموندل شي، لکه دروازې، کړکی او برنډې.
- ګرز: په کور کې سرپ یا لیډ د هغه رنګ شویو سطحو له ګرز او غبار څخه راپیدا کیږي چې هغه رنګ پوستکي اچوي. د کور رنګولو یا بیا رغولو پرمهال د زړو رنګونو پوستکی او جلا کول هم کولای شي د غبار او ګرز ستونزې رامینځته کړي.
- خاوره: زاړه رنګونه چې ستاسو له کور څخه بهر پر ځمکه لوېږي هم کیدای شي په خاوره کې سرپ پریږدي.
- سرپ ا یا لیډ د سیرامیک لوښو، کرسټل، له متحده ایالاتو څخه بهر جوړي شوي خوراکي لوښو، د اوبو په پایپونو، کج او نلانو او د ښکلا او ښایست په ځینو لوښو او کورنی درملو کې هم وموندل شي.
- ځیني دندې او د شوق کارونه هم کولای شي ماشومان او لویان مسموم کړي. مثلا انځورګران، د کور ترمیمونکي، نل جوړونکي، مستریان، پر پله کارکونکي، د ګاڼو، سیرامیک/ لوښي یا داغ شوي شیشي جوړنکي او په سرپوښي ځای کې ریګي ساحو ته تلونکي کسان.

## ایا ستاسو ماشوم د سرپ یا لیډ د مسمومېدو د خطر سره مخ دی؟

که تاسو د دې پوښتنو څخه هري یوې ته د هو ځواب ورکړئ، کېدای شي تاسو وغواړئ چې خپل ماشوم معاینه کړئ، آن که ستاسو ماشوم لوی هم وي.

- ایا ستاسو ماشوم د 1960 څخه مخکي جوړه شوې ودانی کې ژوند کوي یا ډیری وختونه همداسي یوې ودانی ته ورځی؟
- ایا ستاسو ماشوم د 1978 څخه مخکي جوړه شوې داسي ودانی کې ژوند کوي یا ډیری وختونه هلته ورځي چې په دې وروستیو کې ترمیم یا رغول شوې ده؟
- ایا ستاسو ماشوم په داسي یوې ودانی کې ژوند کوي یا ډیری وختونه هلته ورځي چې د رنګ پوستکي یا ټوټې تري رالوېږي؟
- ایا ستاسو ماشوم د یو داسي بالغ شخص سره ژوند کوي یا ډیری وختونه د یو داسي بالغ شخص سره ویني چې د هغه دنده یا کار د مسمومیت ښکار کېدای شي؟
- آیا ستاسو کورنی د متحده ایالاتو څخه بهر جوړ شوي لوښي کې خوراک او څیښاک کوي؟
- یا ستاسو په کورنی کې کورني درمل کاریږي؟

## یو ماشوم څنګه په سرپ یا لیډ مسموم کیږي؟

- د سرپ یا لیډ مسمومیت معمولا هغه وخت پیښیږي چې کله ماشومان هغه دوړي تنفس کړي (یا یې تېرې کړي) چې هغه سرپ یا لیډ ولري. ماشومان ممکن د سرپ یا لیډ لرونکي رنګ یا خاورې یا ټوټې هم تېرې کړي.

## سرپ یا لیډ په بدن کې څه کوي؟

- په بدن کې د سرپ یا لیډ مقدار خوندي نه دی. زیان لرونکی سرپ یا لیډ کېدای شي د تل لپاره په بدن کې پاتي شي! سرپ یا لیډ کولای شي دماغ ته زیان ورسوي. دا کولای شي د بدني ودې ستونزې، په اورېدو کې مشکلات او د زده کړې په برخه کې ستونزې رامینځته کړي.
- په ډیرو ماشومانو کې د سرپ یا لیډ د مسمومیت نښې نه ښکاره کیږي. د سرپ یا لیډ مسمومیت د لوړې کچې ځیني نښې د ماشومتوب د نورو ناروغیو په څیر وي، لکه عمومي زکام یا د غاښونو راتلل.

Prevent LEAD poisoning

معلوماتي پاڼه

DPH CT (د کونیټیکټ د عامې روغتیا ریاست)

سرپ مسمومیدلو مخنیوي پروګرام

## سرپ یا لیډ په بدن کې څه کوي؟ (ادامه)

- که یوه میندواره ښځه د سرپ یا لیډ ساحي په شاوخوا کې وي، هغه او د هغې زیږیدونکی ماشوم ممکن په سرپ یا لیډ باندی مسموم شي. سرپ یا لیډ کولای شي مور او ماشوم ته دوامداره زیان ورسوي.

---

## څنګه کولای شئ دا خطر را کم کړئ؟

په خوندي ډول د سرپ یا لیډ ټول خطرونه وپیژنئ، سم یې کړئ او دا اداره کړئ.

**هغه ګامونه چې تاسو یې په مرسته د ماشومانو د مسموم کیدو مخه نیسئ:**

- ماشومان او میندواره میرمنې د ټولو خطرونو څخه لیرې وساتئ.
- په لانده ټوکر د کړکۍ دېوالونه او بېخونه او سطحې د سرپ یا لیډ له غبار څخه پاکې کړئ. وچ جارو یا برقي جارو مه کاروئ، ځکه په دې سره د سرپو دوړې او غبار نور هم خپرېږي.
- ځایونه په پوستک لرونکې رنګ سره بند کړئ. له هغه کړکیو څخه استفاده مه کوئ چې پوستکي لرونکی رنګ لري.
- د خپل ماشوم د خوب خونه یا د لوبې ساحه یوې داسې کوټې ته بدله کړئ چې هیڅ رنګ یا پوستکي ونه لري.
- د هغه دروازو په خوله کې د وینځلو وړ فرش هوار کړئ چې څوک ترې وځي او ورته راځي.
- له خلګو څخه غوښتنه وکړئ چې مخکې له دې چې کور ته راشي باید خپل بوټونه بهر وکاږي.
- خپل ماشوم (یا کورني حیوان) ته اجازه مه ورکوئ چې په خاورو کې لوبې وکړي.
- د خپل ماشوم لاسونه، د لوبو سامانونه او د ساتیرې توکي ډېر ومینځئ او وچ یې کړئ. د خپل ماشوم لاسونه د لوبې کولو، خوړلو او ویده کیدو وړاندې ومینځئ او وچ یې کړئ.
- د ښناک، پخلی کولو او ماشوم ته د شیدو جوړولو لپاره د نل له سړو اوبو څخه استفاده وکړئ. مخکې له دې چې اوبه وکاروئ، د 1-2 دقیقو لپاره اوبه خوشې کړئ.
- خپل ماشوم ته د خوړو لپاره صحي خواړه ورکړئ. هغه معده چې خالي وي د ډکې معدې په پرتله ډېر ژر سرپ یا لیډ جذبوي.

**هغه ګامونه چې لویان کولای شي د دندې یا کار له امله د خپل ځان او خپلو ماشومانو د مسمومېدو د مخنیوي په برخه کې ورسره مرسته وکړي:**

- د خپلې دندې/ کاري ساحه کې خوراک، ښناک مه کوئ او سګرېټ مه څکوئ.
- خپل لاسونه او مخ د خوراک، سګرېټ څکولو او څیښاک وړاندې پریمینځئ.
- کله چې تاسو د سرپ یا لیډ سره کار کوئ محافظتي جامې (لکه دستکشې، خولۍ او د بوټانو پوښ) واغوندئ. (د حرفوي خوندیتوب او روغتیا ملي انسټیټیوټ NIOSH )لخوا تصویب شوي ماسکونو څخه استفاده وکړئ.
- ولامبئ، خپل ویښتان ومینځئ او د کار ساحې څخه د وتلو مخکې پاکې جامې او بوټان بدل کړئ. ستاسو پر جامو باندې د دوړو پریښودل ستاسو کور او موټر ککړوي.
- خپلې کاري جامې او بوټان په بند شویو پلاستیکي کڅوړو کې واچوئ.
- د کار جامې د کورنۍ د نورو کالیو څخه جلا ومینځئ.

---

## ایا ستاسو ماشوم باید د سرپ یا لیډ د مسمومېدو لپاره معاینه شي؟

- هو، ټول ماشومان، چې شاوخوا یو او دوه کلن وي، باید د سرپ یا لیډ د مسمومیت لپاره معاینه شي... دا قانون دی!
- د وینې معاینات به دا وښیي چې د معایناتو پرمهال ستاسو د ماشوم په وینه کې څومره سرپ یا لیډ شته. که چیرې یې کچه لوړه وي، ستاسو ماشوم باید نور معاینات هم ترسره کړي.
- که ستاسو ماشوم نور وختونه د خطر سره مخ شوی وي، نو خپل ماشوم په دې وختونو کې هم معاینه کړئ.

---

**Connecticut د مسمومیت د مخنیوي پروګرام**

**(860) 509-7299**

**www.ct.gov/dph/lead**

CONNECTICUT
Public Health